شمیره 4

# ښې حکومتولۍ ته لاربودنې

## معلوماتو ته لاسرسی او عامه شفافیت ته محدودیتونه

Centre for Integrity in the Defence Sector

## د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې

د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې (CIDS) صداقت او رښتینولي، د فساد پر وړاندې تدابیر او په دفاعي سکتور کې ښه حکومتولي ترویجوي. د ناروې او نړیوالو ملګرو سره په یوځای کارکولو کې، دا مرکز په دې هڅه کې دی چې وړتیا جوړه کړي، د باخبرۍ کچه لوړه کړي او د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره عملي ابزار برابر کړي. CIDS د ناروې د دفاع د وزارت لخوا په 2012 کال کې تأسیس شو.

په دغه کتابګې کې هغه نظریې چې څرګندې شوې دي، د هغه د لیکونکي دي او حتمي نده چې د ناروې د دفاع د وزارت نظر څرګند کړي، او نه هم باید هغه د ناروې د دفاع وزارت ته منسوبې کړای شي.

## د  لیکونکي په هکله

**فرانسیسکو کاردونه** په CIDS کې یو اړوند نړیوال کارپوه دی. کاردونه یو نامتو کارپوه دی چې د ملکي خدمتونو او عامه اداري د اصلاحاتو ، اداري قانون او عدالت، د فساد ضد تګلارو او د بنسټ جوړونې په طرح او ارزونه باندې تمرکز لري. د ده ازمېښت د ده د ټاټوبي هسپانیې څخه، چیرې چې ده په عامه خدمتونو کې خپلې کاري سابقې ته پرمختګ ورکړ، بیا تر نړیوالو سازمانونو لکه د اقتصادي همکارۍ او ودې لپاره سازمان OECD ، د SIGMA تر پروګرام پورې غزېږي، چیرې چې کاردونه د تګلارې د یوه مشر تحلیل او تجزیه کوونکي په توګه په ملکي خدمتونو کې په عامه حکومتولۍ کې 15 کاله تېر کړل. په SIGMA کې هغه 25 مخ په پرمختګ او د انتقال په بهیر کې هېوادونو ته په شرقي اروپا، افریقا، لاتینې امریکې او د کارابیین په سیمه کې مشوره ورکړله. ده د یوه قانون پوه په توګه زده کړه تر لاسه کړې (په والینسیا پوهنتون کې ، 1976) او په عامه اداري کارونو کې یو زیات شمېر ماسترۍ لري.

# سريځه

CIDS د ښه حکومتولۍ د لارښودونو د لړۍ ځلورم کتاب چاپوي. په دې لړۍ کې زموږ موخه د ښه حکومتولۍ په برخه کې زيات شمېر لوستونکو ته په دقيقه او اسانه ژبه د کليدي ستونزو وړاندې کول دي.

ليکونکي هڅه کړېده چې معلوماتو ته د لاسرسي په ساحه کې تر ټولو ښې نړېوالې کړنې په لنډه توګه بياني کړي. دا کار  ننګوونکی دی چې معلوماتو ته د عامه خلکو د لاسرسي او د دولت د مشروعې اړتيا تر مينځ چې د يو لړ ټاکليو معلوماتو محافظت وکړي، يو توازن/انډول پرقرار کړي، د بېلګې په توګه چې د ملت او د هغه د اتباعو د مصؤنيت او امنيت ساتنه وکړي. دا خبره په ځانګړې توګه د دفاع په هکله ننګوونکې ده، چيرې چې محرميت / رازداري تر يوه حده يوه اړتيا ده. خو سره لدې، بعضې وختونه د ملي امنيتي ملاحظاتو اصلي موخه کېدای شي دا وي چې هغه معلومات پټ وساتل شي، کوم چې بايد د عامه خلکو پر وړاندې پرانيستي وي او د عامه بحثونو په اختيار کې ورکړل شي. زه هيله من يم چې موږ په دې توانېدلي يو چې يو سم انډول پرقرار کړو.

دا لارښود د فرانسيسکو کاردونه Francisco Cardona په مټ ليکل شوی، کوم چې د CIDS د مشرو نړيوالو کارپوهانو له جملې څخه يو دی. زه غواړم چې د ده د هڅو لپاره يې او هم دا چې موږ ته يې دا فرصت راکړ چې د ده د ازمېښتونو او اوږد مهالو تجربو څخه ګټه پورته کړو، مننه ځنې وکړم.

زه همدارنګه غواړم چې د انګرېډ باستيرود Ingrid Busterud څخه مننه وکړم چې دا لارښود يې تصحيح کړی.

موږ هيله من يو چې ښه حکومتولۍ ته دغه مرسته کېدای شي د پراخو حضارو لخوا هم په عامه او هم په دفاعي سکتور او په بهر کې وکارول شي. په يوې ديموکراتيکې او پرانيستې ټولنې کې معلوماتو ته د عامه وو لاسرسی ډېر اړين دی او د ښه حکومتولۍ لپاره د يوه بنسټ ښکارندويي کوي. CIDS خوښ دی چې د دغه لارښود په اړه هر راز ملاحظې او انعکاسات چې وي، تر لاسه يې کړي.

اوسلو، د 2016 کال د  مې 23

**پر کرستنسن (Per Christensen)**
**رئيس**

# محتوا


مقدمه.......................................................................................................3

یو ’د پرې پوهېدلو حق‘ لا تر اوسه تر کار لاندې دی ........................................................4

شفافیت/رڼوالی: د یوه انتزاعي ارزښت څخه تر بنسټیزه کړای شوې کړنې
او د حکومتولۍ بنسټونو پورې.......................................................................... ..7

د عامه چارو د نورو ارزښتونو سره یو د اندېښنې وړ انډول ..........................................10

معلوماتو ته ازاد لاسرسی او د دولتي رازونو محرمیت ..........................................10

معلوماتو ته ازاد لاسرسی او د افشاګرو محافظت..................................................14

نتیجې اخیستنې.......................................................................................... 19

# مقدمه

معلومات، د څرګندونو آزادي او شفافیت د دیموکراسۍ لپاره ګټور دي ځکه چې دوی په سیاسي بهیر کې د اتباعو د آګاهانه پرېکړو لپاره لازم الاجرا دي او ، په پای کې، د بشر د حقونو د ساتنې لپاره. معلوماتو ته لاسرسی د هرې واقعي دیموکراسۍ د بستې یوه برخه ده، ځکه چې هغه د اتباعو د ګډون، د عامه چارواکو د حسابوروکونې او په ټول کې د حکومت د شفافیت ملاتړ کوي. دا اتباعو په حیث د افرادو د خپل ځانې درناوي په زیاتولو کې مرسته کوي او د قدرت طلبۍ ، فساد او ناوړې اداري احتمالي ګواښونه کموي.

دغه لیکنه په ډېرو هېوادونو کې د یوې عامه تقوا په توګه د شفافیت تدریجي استقرار ته رسېدنه کوي. اوسمهال، شفافیت په بېلګې کې ښه حکومتولي ښیي. هر څومره چې یو دولت پرانیستی او شفاف وي، هغومره بهتره د عامه حکومتولۍ سیستم کېدای شي چې وي.

موږ تر هغه بریده سپړل کولای شو تر کومه چې شفافیت د OECD او اروپایي اتحادیې په هېوادونو کې په اداري کړنو کې یو بنسټ پیدا کړي. موږ د هغه حد ارزونه کوو ، په کوم کې چې د شفافیت پر وړاندې خنډونه د اداري کړنې له مخه لیرې کېږي او یا خو هم برعکس یې پیښېږي. د شفافیت په وړاندې عمده محدودیتونه د دولت د محرمیتونو د حفاظت او د انفرادي حریم څخه ریښه اخلي. دا محدودیتونه قانوني دي. خو بیا هم، پکار ده چې دوی د اصلي اصولو په اړه یوه استثنا وبولو ، کوم چې معلوماتو ته پوره لاسرسی دی.

د دولتي رازونو حفاظت قانوني دی تر هغه ځایه چې هغه توجیه شوی وي، په داسې حال کې شفافیت کومې توجیې ته اړتیا نلري. خو بیا هم، په ډېرو هېوادونو کې دا د حقیقت څخه ډېر لیرې دی. سر بېره پر دې، د ' پرې پوهېدلو یو حق' او دولتي رازونو حفاظت په مخالفو استقامتونو کشېدنه کوي. ډېر خلک خپل دې باور ته، په غلطۍ سره، دوام ورکوي چې ملي امنیت او ملي دفاع باید د تعریف له مخه د قانون او دیموکراتیکې دقیقې ارزونې له قلمرو څخه بهر وساتل شي.

دغه لیکنه به قصداً د شخصي ډېټا/معلوماتو حفاظت یوې خواته پرېږدي (شخصي او یا خو هم د کاروبار په اړه) تر څو وکولای شي هغو معلوماتو ته پر لاسرسي ټینګار وکړي چې د عامه چارو له پلوه اهیمت لري. دا پدې خاطر ده چې د وروستي هغو ډول معلوماتو ته ازاد لاسرسی ډېر احتمال لري چې ښه حکومتولي غښتلې کړي، په داسې حال کې چې د هغې پټوالی د دیموکراتیکو رژیمونو او حکومتولۍ کیفیت د کمولو احتمال زیات کړي.

# یو ’د پرېږ پوهېدلو حق‘ لا تر اوسه تر کار لاندې دی

موږ د شفافیت او معلوماتو د ازادۍ د یوې مخ پر زیاتېدونکې تقاضا شاهدان یو. د 105 هېوادونو پر شا او خوا اوس معلوماتو ته د لاسرسي قوانین لري،[1] که څه هم د ډول ډول کیفیت او بعد لرونکي. سربېره پر دې، ډېر حکومتونه د پرانیستي حکومت د مشارکت څخه ګټه اخلي، یو نړیوال اتحاد د شفافیت د ترویج لپاره چې په 2011 کال کې جوړ شو. په 2015 کال کې په دې سازمان کې 66 هېوادونو ګډون درلود.[2]

د بشري حقونو نړیوال تشکلونه، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمېټې (2011)، په امریکې کې دننه د بشري حقونو محکمې (2006) او د اروپا د بشري حقونو محکمې (2009 او 2013) حکم کړی دی چې د عامه چارو د هیأتونو/تشکلونو/ عامه چارو کارکوونکو لخوا معلوماتو ته لاسرسی یو بشري حق دی، یوه اظهار نامه ده چې 2010 کال د لیزبون د تړون لخوا منعکس شوې ده (د اروپایي اتحادیې د تړون- TEU 15 ماده).

د TEU 15 ماده دا خبره تصدیقوي چې ’د دې لپاره چې ښه حکومتولي ترویج کړای شي او د مدني ټولنې د ګډون څخه ډاډ تر لاسه شي، د اتحاد بنسټونه، تشکلونه، دفترونه او اېجنسۍ باید خپل کار هر څومره چې شوني وي په پرانیستې توګه تر سره کړي‘، او دا خبره تصریح کوي چې ’د اتحاد هر تبعه، او هر ذاتي او یا حقوقي کس چې مېشت دی او یا په غړي هېواد کې خپل دفتر لري، باید د اتحاد د بنسټونو، تشکلونو، دفترونو او اېجنیسو، هر ډول وسیلې/ رسنیې چې یې وي، اسنادو ته د لاسرسي حق ولري‘. د اروپایي اتحادیې د بنسټیزو حقونو منشور، اوس پر ټولو غړو هېوادنو دا الزام لګوي، او صریحاً ’ د هر یوه کس لاسرسی خپلو دوسیو ته ، (41 ماده) او د اروپایي اتحادیې اسنادو ته د لاسرسي حق صریحاً تضمینوي (42 ماده).

د OECD/SIGMA له قوله، اداري اسنادو ته د لاسرسي حق یوازې په دې وروستیو کې د یوه بنسټیز حق په توګه په رسمیت وپېژندل شو. خو سره لدې، اداري شفافیت د ډېر وخت راپدېخوا په ډېرو لوېدیځو هېوادونو کې د یوه مثبت، که څه هم ډېر کله د بې پایلې نظر په توګه مطرح شوی دی. د پام وړ یو وختي مثبت مثال سویډن وو، چیرې چې رسمي اسنادو ته د عامه چارو اصل وړاندې په 1766 کال کې د مطبوعاتو د ازادۍ د مقرراتو په چوکاټ کې ورپېژندل شوی وو. فنلنډ په 1951 کال دې ته یوه ورته مقرره نافذه کړله، چې بیا د ناروې او ډنمارک لخوا په 1970 کال کې تعقیب شوله. استرالیا، کاناډا او نوي زیلانډ په 1982-1983 کلونو کې د دوی د بېلګو پسې ولاړل. په برتانیې او کاناډا کې او په قاره ای اروپا کې ، د شفافیت اصل د غښتلې مقاومت سره مخامخ شو. په پیل کې، هغه یوازې د اداري طرزالعملونو د قانون (APAs) په وسیله تطبیق شو.

1 Global Right to Information Rating (RIT). Available at http://www.rti-rating.org/country-data

2 Open Government Partnership. Available at http://www.opengovpartnership.org/

خو بیا هم، د دوو تېرو لسیزو په ترځ کې، دغه ډول 'په طرزالعمل پورې تړلی شفافیت' په ټوله نړۍ کې د معلوماتو د ازادۍ د قانون د خپرېدلو سره متمم شوی دی.[3]

په 1999 کال کې Yehezkel Dror په حکومت کې د شفافیت او پرانیستیا لپاره اړتیا په دقت سره تشریح کړله.[4] وروسته له دې چې یې د نورمونو او ابزارو په توګه د هغوی مفهومي تشریح ورکړله، ده دا نتیجه واخیستله چې 'د شفافیت او پرانیستیا زیاتول باید د ظرفیتونو د لوړولو په محدوده کې تر غور لاندې ونیول شي او بیا غور پرې وشي تر څو چې حکومت وکړای شي او د 'د دیموکراسۍ د کیفیت' په لوړ په ټول کې خوځښت وکړای شي'. په همدې شان، (Amartya Sen (1999 داسې وړاندیز وکړ چې د شفافیت تضمینول یوه کلیدي ابزاري ازادي ده چې د افرادو خپلواکۍ او د فساد د کمولو په برخه کې مرسته کوي.[5]

ډېر هېوادونه معلوماتو ته لاسرسی د بشر د قانوني حق په توګه په رسمیت پېژني. د ملي FOIAs او نړیوالو معیارونو د تعیینولو د عمل اصالت داسې ښکارېده چې یوه نه دریېدونکي شفافیت پلوه غورځنګ ته تقویت ورکاوه. خو بیا هم، دغه ادراک کېدای شي د دغه اصالت ناسمه ښکارندويي وکړي. د عامه حکومت د یوې مشخصې په توګه شفافیت یو کار دی چې پرمختګ کوي او د نړۍ په ډېرو برخو کې یو الهام بخښونکی هدف دی.

آزادۍ او منصفانه ټولټاکنې اړینې دي، خو د یوې کیفیت لرونکې دیموکراسۍ لپاره ناکافي دي. په دې وروستیو کلونو کې ډېر استبدادي حکومتونه د رسمي ټاکنیزو بهیرونو له لارې انتخاب شوي دي. د آزادۍ د کورونو آزادۍ Freedom House's Freedom په خپل د نړۍ 2015 رپوټ کې د نهو پرله پسې کلونو لپاره د آزادۍ یو هر اړخیز ټیټېدل موندل.[6] هغه یو ناراحت کوونکی پرمختګ په ګوته کوي: یو شمېر هېوادونه د دولت د څارنې، پر انټرنټي ارتباطاتو د محدودیت، او پر شخصي خودمختارۍ د محدودیت له کبله شاته پاتې شول. دا رپوټ داسې ملاحظه کوي چې د نړۍ 26% هېوادونه ندي خپلواک. پر دې سربېره، په یو لړ هېوادونو کې داسې هڅې کېږي چې هغه پرمختګ بیرته شاته بوځي کوم چې د اتباعو د 'د پرې پوهېدلو د حق' تضمین یې کاوه چې پوه شي چې حکومتونه څه کوي.

3 OECD. 2010. "The Right to Open Public Administrations in Europe: Emerging Legal Standards", *SIGMA Papers*, No. 46. Paris: OECD Publishing. DOI: http://dx.doi.org/10.1787/5km4g0zfqt27-en

4 Dror, Yehezkel. 1999. "Transparency and Openness of Quality Democracy". *Openness and Transparency in Governance: Challenges and Opportunities*. M. Kelly, Ed. Maastricht: NISPAcee Forum, 1999, 25–43.

5 Sen, Amartya. 1999. *Development as Freedom*. Anchor Books, Alfred A. Knopf Inc. Publisher New York, 38-40.

6 Freedom House. 2015. "Freedom in the World 2015". Available at: https://freedomhouse.org/report/freedom-world/freedom-world-2015?gclid=CLHLztT0o8gCFafnwgodQEMKkw#.Vg6JEfntmkp

په برتانيې کې، د 2015 کال په دوبي کې د ورځپاڼې په يوه عنوان کې ليکل شوي ول: 'د پرې پوهېدلو حق' په خطر کې دی ځکه چې حکومت د معلوماتو آزادي په نښه کوي.[7] د هنګري لومړي وزير ويکتر اوربان د 2014 کال د جولای پر 26 وويل چې دی غواړي چې ليبراله ډېموکراسي پرېږدي او د يوه 'ليبرال دولت' هواداري يې وښوده، او روسيه او ترکيه يې د بېلګو په توګه راوړل. [8] د ليبرالو ديموکراسيو تصور د فريد ذاکاريا Fareed Zakaria لخوا په 1997 کال کې د رسمي ديموکراسيو په توګه پرته له انفرادي قانوني حقوقو، پرته له هغو بنسټونو کوم چې وکولای شي ' د يوه کس خودمختاري او وقار د تهديد او اجبار په وړاندې محافظت کړي، هر ډول چې يې سرچينه وي – دولت، کليسا او يا ټولنه' په ښه توګه سپړل شوی او تعريف شوی وو.[9] د ليبرالې ديموکراسۍ تصور د يوه حساب ورکوونکي حکومت شمول ته اړتيا لري چې بشپړ شي. څرنګه چې يې Fukuyama ګڼي، 'حساب ورکوونکی حکومت دا معنا لري چې حاکمان داسې باور لري چې دوی د هغو خلکو مسئوليت پر غاړه لري چې دوی حکومت ورباندې کوي او د خلکو ګټې تر خپلو هغو لوړې بردي'. [10]

په داسې حال کې چې له يوې خوا ډېر نړيوال بنسټونه او د هېوادونو حکومتونه معلوماتو ته د لاسرسي او د ځرګندونو د ازادۍ پر بنسټ ولاړ ديموکراتيک ارزښتونه ترويجوي، داسې ښکارې چې په ډېرو ټولنو کې يو مخ پر زياتېدونکي د اندېښنې وړ استقامتي انحراف د استبداد او واک طلبۍ خواته روان ليدل کېږي، په اروپا کې د يو لړ هېوادنو په ګډون. په دغه تناقض څرنګه پوه شو؟ د دغه ډول يو منشعب تمايل د پايلو سره څرنګه چال چلند وکړو؟ دا څنګه خبره ده چې، د حکومت د شفافيت په لور د نړيوال خوځښت سره سره، د عامه چارو چارواکو د چلند او د مشکوکو دولتي تګلارو په هکله د تر ټولو د پام وړ افشاګرۍ په دې وروستيو کلونو کې راڅرګندې شولې چې د يوه سترې فاش کوونې په نتيجه کې وه (د Snowden, Wikileaks, Manning, Lux-leaks پانامې اسناد او داسې نور)؟ آيا د معلوماتو د دغو سترو افشاکوونو مخنيوی د حکومتونو لخوا د يوې سالمې تګلارې په واسطه شوی وو؟

دغې ليکنې تر يوه بريده هغو مسئلو ته رسېدنه کوي چې په څه ډول د شفافيت او د ' د پرې پوهېدلو د حق' د يوه انتزاعي بنسټيز ديموکراتيک ارزښت څخه د هغوی تر غوښې بنسټيزې کوونې پورې د انتقال مديريت وکړای شي. موږ يې داسې فرضوو، لکه Hanna Arendt، پرته د هغو بنسټونو چې يې ساتنه وکړای شي، هيڅ يوه آزادي او ديموکراسي به نه وي. د Arendt د سياسي فکر کولو په زړه کې د هغې ټينګار پروت دی چې آزادي د بنسټ بهر شتون نشي درلودلای. څرنګه چې Montesquieu تر دې مخکې ليدلې ول، Arendt وليدل چې آزادي او واک په يو بل پورې اړه لري.[11]

7 The Independent. 17 July 2015. Available at http://www.independent.co.uk/news/uk/home-news/the-end-of-foi-right-to-know-in-peril-as-government-targets-freedom-of-information-10397935.html

8 Simon, Zoltan. "Orban says he seeks to end liberal democracy in Hungary". Bloomberg. 28 July 2014. http://www.bloomberg.com/news/articles/2014-07-28/orban-says-he-seeks-to-end-liberal-democracy-in-hungary

9 Zakaria, Fareed. 1997. "The Rise of Illiberal Democracy". *Foreign Affairs*, Vol. 76, N° 6, Nov-Dec 1997, pages 22-43. Also available at: https://www.foreignaffairs.com/articles/1997-11-01/rise-illiberal-democracy

10 Fukuyama, Francis. 2012. *The Origins of Political Order*. London: Profile Books. 321.

11 Berkowitz, Roger. 2012. *Jacques Rancière and Hanna Arendt on Democratic Politics*, in Hanna Arendt Center-Bard College. Available at: http://www.hannaharendtcenter.org/?p=14131

# شفافیت/رڼوالی: د یوه انتزاعي ارزښت څخه تر بنسټیزه کړای شوې کړنې او د حکومتولۍ بنسټونو پورې

’د پرې پوهېدلو حق‘ به بې ارزښته وي که چېرې د عامه بنسټونو لخوا معلوماتو ته د ازاد لاسرسي ضمانت ونشي. هغه نړیوال غورځنګ چې معلوماتو ته د لاسرسي د اسانتیا په برابرولو بوخت دی او د بشري حقونو په توګه معلوماتو ته د لاسرسي په اړه د نړیوالو معیارونو د تعیینولو اعلامیه به هیڅ کوم ځای ته ورنه رسېږي که چېرې په ملي بنسټونه کې واک شتون و نه لري او یا خو هم بې واکه وي.

د هغو بنسټونو طرح کول چې معلوماتو ته د لاسرسي د محافظت توانایی لري، د یوې معینې ملي زمینې په ځانګړو شرایطو پورې اړه لري. په هغو هېوادونو کې چې کارکوونکي دیموکراتیک بنسټونه نشته، ورته به کېدای شي ډېره ګرانه وي چې نه یوازې د عامه چارو اهمیت لرونکو معلوماتو ته د لاسرسي تضمین وکړي، بلکې د اتباعو د نورو اساسي حقونو تضمین به هم ونکړای شي.

ډېر پرمختللي هېوادونه کېدای شي په بهتره توګه سمبال اوسې چې د ’پرې پوهېدلو حق‘ هم په خصوصي او هم په عامه سکتور کې تضمین کړي، په خاصه توګه که چېرې رسنیې په کافي توګه خپلواکې او مسلکي وي. فرانسه، د سکاندینویا هېوادونه او کاناډا داسې ښکارې چې به هغه هېوادونه وي چې د رسنیو مالکیت پکې ډېر شفاف دی او چېرې چې اعلان ورکوونکي د دارالانشاء پر هیأت لږ اغېز لري، د 2014 کال د اعلان ورکوونکو د نړیوال فدراسیون د څېړنې له قوله.[12] د دولت نقش د خپلو اتباعو د ’پرې پوهېدلو حق‘ په محافظت کې ډېر اړین دی ، خو په دغو وروسته ذکر شویو هېوادونو کې دخصوصي سکتور رسنیې کولای شي د دولت نقش د عامه چارو په ګټه د معتبرو معلوماتو په برابرولو کې مکمل کړي.

ننه ورځ د ’پرې پوهېدلو حق‘ په لا ډېره روښانه توګه د آزادۍ وینا د بستې او برخې په توګه ګڼل کېږي. دا حق پدې توګه په 2006 کال کې په امریکې کې دننه د بشري حقونو د محکمې او په 2009 او 2013 کلونو کې د اروپا د بشري حقونو د محکمې لخوا په رسمیت وپېژندل شو[13] په همدغه رشته، په خپلو عمومي څرګندونو کې د 2011 کال د جولای پر 34 او 29 نېټو د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټه دې نظریې ته په کلکه وفاداره پاتې شوله چې هغو معلوماتو ته چې د عامه چاروکو او خصوصي تشکلونو په اختیار کې دي چې عامه چارې تر سره کړې، یو بنسټیز حق شتون لري، او دا چې دا حق د آزادۍ څرګندونې د په ښه توګه برقرار شوې حق سره تړاو لري چې د 1948 کال د مدني او سیاسي حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د نړیوال کنوانسیون

12 Global Media Transparency Index. 2014. Available at http://www.cnnumerique.fr/wp-content/uploads/2014/12/WFA_MEDIA_TransparencyIndex_Feb2014.pdf

13 Inter-American Court of Human Rights: Case Claude Reyes et al. vs. Chile, Judgment of 19 September 2006 (http://www.corteidh.or.cr/docs/casos/articulos/seriec_151_ing.pdf); and European Court of Human Rights: Case Társaság a Szabadságjogokért (Hungarian Civil Liberties Union) vs. Hungary, Judgment of 14 April 2009 ; (http://hudoc.echr.coe.int/eng?i=001-92171 ); European Court of Human Rights: Case Youth Initiative for Human Rights vs. Serbia, Judgment of 25 June 2013 (http://hudoc.echr.coe.int/eng?i=001-120955)

په 19 ماده کې نغښتی دی.[14]

سربېره پر دې، د اروپا د بشري حقونو محکمې په خپل Guja v Moldova (د 2008 کال د فبرورۍ د 12 نېټې په قضاوت کې) او په Heinisch v Germany (د 2011 کال د اکتوبر د 21 نېټې په قضاوت کې) یې د اروپايي کنوانسیون د بشري حقونو 10 ماده نقل قول کړې، یعنې د اظهاراتو د ازادۍ د محافظت په اړه[15]، د افشاګرو د محافظت د اساس په توګه.

په عقلاني توګه، له همدې کبله، دا شونې ده چې د 'پرې پوهېدلو حق' او د افشاګرو محافظت ته یو له بل سره تړاو ورکړو. دوی دواړه د څرګندونو د آزادۍ د حق او د عامه خلکو د حق ښکارندويي کوي چې پدې پوه شي چې د عامه چارو په تشکلونو کې څه پیښبږي. د عامه ګټو معلوماتو ته آزاد لاسرسی به د مدني حق او وظیفې په توګه د افشاګرۍ د یوه غښتلي ملاتړ پرته نابشپړ وي. په واقعیت کې، د نړیوالو محکمو قانوني قضیې پدې لور رواني دې او هڅه کوي چې په ګډه معلوماتو ته د لاسرسي محافظت، د اظهاراتو آزادي او د افرادو فعال ګډون په عامه چارو کې تر سره کړي.

د 'پرې پوهېدلو حق' بنسټیزه کول یوه مناسب کاري چوکاټ او مدیریتي کړنلارۍ ته اړتیا لري، کوم چې په ګډه کولای شي د شفافیت یو فرهنګ ترویج کړي، چیرې چې تر دې وړاندې د رازدارۍ او اختفا یو فرهنګ حاکم وو. د رازدارۍ څخه شفافیت ته تېرېدنه او د لاسرسي څخه معلوماتو ته کېدای شي اوږد سړک وي او لوړې او ژورې ولري، ان په ښه توګه تاسیس شویو دیموکراسیو کې ، لکه د برتانیې د قضیې په شان په اثبات رسېدای شي.[16]

معمولاً، قانوني چوکاټ د معلوماتو د آزادۍ دقانون (FOIA) څخه جوړ شوی، کوم چې د قانوي بند او بسونو/ نظمونو اساس جوړوي او مدیریتي میکانیزمونه ټاکي، او همدارنګه معلوماتو د لاسرسي محافظت طرح کوي. په دغو کې کېدای شي چې د معلوماتو کمیشنران یا نورې ځانګړې اېجنسۍ شاملې وي. دا همدارنګه باید د افشاګرو محافظت احتوا کړي، کوم چې ډېره یوه پېچلې مسئله ده او د یوې بېلې او په جلا مقررې کې د فقرې مستحقه ده، څرنګه چې یې OECD سپارښتنه کوي.[17]

د بنسټیزه کېدو په برخه کې، د 'پرې پوهېدلو حق'هیڅ یوه سیستم پرته له یوه روښانې، فورمولبندي شوې کړنلارې به په مناسبه توګه کار ونکړي، کومه چې د بصیرتي/صلاح لید واک څخه د ناوړې کټې اخیستنې امکانات لري کړي او په ټولو کچو کې ملکي مامورین پدې تشویق کړي چې د هغې د پرځای کولو ملاتړ وکړي (د بېلګې په توګه، د ملکي مامورینو د رازدارۍ دندې ته معلوماتو ته د لاسرسي د حق سره انډول ورکړي). دا ډول کړنلارې باید همدرانګه د حکومت ټولې ساحې تشویقې کړې چې د معلوماتو د افشا کولو منظمې کړنې ته د هوډ د ړغ کولو لارې رهبري کړي. دا فورمولبندي شوې کړنې په خاصه توګه د سوانحو د مدیریت او د افشاکولو او د مراحلو د بالمقابلو طی کولو لپاره مهمې دي. دا درې مسئلې د'پرې پوهېدلو د حق' د هر ډو ل بنسټیزه کېدلو لپاره مهمې دي.[18]

14 General Comment 34 of the UN Human Rights Committee: http://www2.ohchr.org/english/bodies/hrc/docs/gc34.pdf

15 European Court of Human Rights: Cases Guja vs Moldova (http://hudoc.echr.coe.int/eng?i=001-85016) and Heinisch vs Germany (http://hudoc.echr.coe.int/eng?i=001-105777)

16 The Economist. 21 November 2015. "Freedom of Information: A little less free. The government seems keen to cloud public-sector transparency". Available at: http://www.economist.com/news/britain/21678823-government-seems-keen-cloud-public-sector-transparency-little-less-free?cid1=cust/noenew/n/n/n/20151123n/owned/n/n/nwl/n/n/EU/email

17 OECD. 2011. "G20 Anti-Corruption Action Plan: Protection of Whistleblowers: Study on Whistleblower Protection Frameworks, Compendium of Best Practices and Guiding Principles for Legislation". Available at: http://www.oecd.org/daf/anti-bribery/48972967.pdf

18 Trapnell, Stephanie E. and Lemieux, Victoria L. 2015. "Transparency in the Public Sector: Drivers of Effectiveness in Right to Information Implementation". Paper presented at the 4th Annual Global Conference on Transparency Research. Università della Svizzera italiana, Lugano, Switzerland, June 4-6, 2015. Page 13, Available at: http://www.transparency.usi.ch/sites/www.transparency.usi.ch/files/media/trapnell_lemieux_transparency_in_the_public_sector_drivers_of_effectiveness_in_right_to_infromation_implementation.pdf

معلوماتو ته د لاسري د حق په اړه د ملي قوانینو او نړیوالو معیارونو څخه، دا ممکنه ده چې یو لړ اساسي عناصر ترې راوباسو کوم چې باید د هغوی بنسټیزه کولو ته بنه ورکړي. معلوماتو ته لاسرسی یو ټولیز/همګاني حق دی، دا باید د ټولو هغو معلوماتو په هکله د تطبیق وړ وګرځي چې د عامه چارو د تشکلونو/ هیأتونو په واک کې دي(مګر دا چې نه افشاکېدل یې په ښه توګه توجیه شوي وي)، حق کېدای شي چې پرځای شي په وړیا توګه او پرته له دې چې کوم دلیل وویل شي، غوښتنو ته باید په هر څومره چې شونې وي ګړندۍ توګه ځواب ورکړل شي د 20 ورځو په موده کې نه تر هغه زیات (د ډېریو هېوادنو مقررات د 15 تر 30 ورځو په اوږدو کې تصریح کېږي)، استثناوې باید محدودې وي او باید هم د عامه خلکو د زیان او هم ګټو په وړاندې وآزمایل شي ، او د یو لړ خپلواکو هیأتونو لخوا باید څارنه تر سره شي، ډېر کله یو د خلکو ږغ اخیستونکی (قضاوت غوښتونکی یا فریاد رس مردم ombudsman) او یا د معلوماتو کمېشنیر. هغه کسان چې معلوماتو ته د لاسرسي د خپل حق غوښتنه کوي باید همدارنګه پدې وتوانېږي چې دا مسئلې د قضایي محاکمو حضور ته وړاندې کړي (Darbishire، 13 مخ).[19]

د 'پرې پوهېدلو د حق' حفاظت په بېلابېلو هېوادونو کې د بېلابېلو حقوقي واک سره د بېلابېلو مقاماتو پر غاړه دی. یوه نسبتاً وروستۍ څېړنه (د 2013 کال په سپتمبر کې خپره شوله او د 2014 کال په نوومبر کې تازه/ په ورځ شوله)په سکاتلند کې د دندي Dundee د پوهنتون د معلوماتو د آزادۍ د مرکز لخوا، ښیي چې په ډېرو هېوادونو کې پکار ده چې د معلوماتو کمېشنران په حقوقي مسلک پورې اړه ولري (وکیلان، قاضیان او داسې نور)، او یو لړ معین مقتضیات پر ځای کړي چې له یوه هېواده تر بل پورې یې ډولونه سره بېل دي (د عمر محدویتونه، د سیاسي ګوندونو سره تړاو ونلري، د مشر/ارشد مدیریت ازمېښت ولري او داسې نور).[20]

د لوړ ذکر شوې څېړنې سره سم، د معلوماتو ډېری کمېشنران (76%) حقوقي ته ورته خپلواک مقامات دي، کوم چې دا واک لري چې الزام لرونکي پرېکړې صادرې کړي د کومو چې باید اطاعت وکړای شي، په داسې حال کې چې (24%) یې کولای شي یوازې سپارښتنې ورکړي. د وروسته ذکر شوې ډلې وظیفه پر یوه بصیرتي شېوې ولاړه ده، کوم چې د خپلمنځیتوب او پخلاینې له لارې د اختلافونو د حل پر لارې ټینګار کوي. د معلوماتو د کمېشنرانو یو شمېر د قضایي ورته خپلواک مقام سره همدارنګه د دې مستحق دي چې د اجباري/ قهریه میکارنیزمونه څخه کار واخلي ، لکه د پولیسو هغوی، کله چې خبره د معلوماتو پسې د ګرځېدلو په هکله وي، لکه د سلوینیا د قضې په شان.

د کمېشنرانو (85%) کوم چې کولای شي د افشا کولو امرونه ورکړي یا غیر له هغه خپلو پرېکړو ته د غاړې اېښودلو غوښتنه وکړي، وایي چې مقامات په دواړو لارو د تطبیق سره موافقه کوي یا دغه غاړه اېښودل په د پام وړ مواردو کې پېښېږي. په مقابل کې یې، د کمېشنرانو څخه هیڅ یوه، څوک چې کولای شي یوازې سپارښتنې وکړي، رپوټ یې ندی ورکړی چې د دوی پرېکړو ته تل غاړه اېښودله شوې ده، او یوازې 45% وویل چې دا ډول غاړه اېښودنه په د پام وړ مواردو کې پېښېږي.

19 Darbishire, Helen. 2015. "Critical Perspectives on Freedom of Expression: Ten Challenges for the Right to Information in the Era of Mega-Leaks", in McGonagle, Tarlach and Donders, Yvonne, ed.: *The United Nations and Freedom of Expression and Information Critical Perspectives*. Cambridge University Press.

20 Centre for Freedom of Information. 2014. "International Survey of Information Commissioners and Ombudsmen". Available at: http://www.centrefoi.org.uk/research.php

# د عامه چارو د نورو ارزښتونو سره یو د اندېښني وړ اندېول

په تاریخي توګه، د سیاست کارول په استبدادي او د واک پر مطلق تمرکز باندي ولاړ رژیمونو کې د رازدارۍ پر اساس وو، کوم یوه ته چې لوړ ارزښت ورکول کېده او په غښتلي توګه بنسټیزه شوی وو، لکه arcana imperii.[21] سیاسي پرېکړې د هغو پاچاهانو په انحصار کې وې ، کوم چې تر هیڅ الزام لاندې نه ول چې تر خپل تسلط لاندې کسانو ته کومه تشریح وړاندې کړي. ګډون کوونکي پرېکړې کووني د یوه مطلق حاکمیت پر وړاندې خوځي. د رازدارۍ د واک ورکړل شویو بالمقابل، لکه پاچاهانو ته د یوه امتیاز په توګه، د ټولنیزو او حقوقي چوکاټونو په منځ تر تسلط لاندې کسان تر ارزوني لاندې ساتل کېدل، د کومې یوې په اساس چې پاچاهانو واقعاً نامحدود واک درلود چې د دوی شخصي ژوند ته لاسرسی ولري او تفتیش یې کړي.

دغې روښانفکرۍ زموږ په پوهاوي کې په سیاست کې د رازدارۍ او شفافیت د نقش په اړه د عطف د یوه ټکي په توګه (یو بدلېدونکی خوځښت) ځای ونیولو. د رازدارۍ په وړاندې ننګووني رامخ شولې او د پاچا هغه واک چې د افرادو شخصي ژوند او ملکیت تفتیش کړي په مخ پر زیاتېدونکي توګه محدود کړای شو. کله چې 'د سړي او تبعه د حقونو' مفکوره د

21 *Arcana imperii* is a Latin expression, which alludes to the necessity for the political power to keep parts or the totality of its actions and decision-making methods hidden. These should remain invisible to the subjects of a monarch or ruler in order for government to be effective. It needed to remain concealed from the public and as mysterious as possible, approximating the exercise of power to a religious or priestly function. Consistently, monarchs were ruling in the name of God. Nowadays it is an expression to designate the "state secrets" or "reasons of state" or, more generally even "the art of governing".

فرانسې د انقلاب له خوا اعلام شوله، او په ټینګېدلو یې پیل وکړلو، د حکومت د سنتي رازدارۍ مشروعیت په مړاوي کېدلو پیل وکړ ، تر څو چې د شفافیت منطقي مشروعیت یې ځای ناستی شو.[22]

خو سره له دې، په ډېرو هېوادونو کې، ان په هغو کې چې ښه پرمختللې دیموکراسۍ لري، معلوماتو ته د آزاد لاسرسي انډول برابرول، د افشاګرو محافظت، د شخصي معلوماتو/ډېټا محافظت او د رازدارۍ او دولتي محرمیت تعریف ستونځمن پاتې دی.

## معلوماتو ته ازاد لاسرسی او د دولتي رازونو محرمیت

د arcana imperii کلاسیکه کارونه په ټولو هېوادونو کې چې په (1815) کال کې د ویېنا د کانګرس څخه راوزېږېدل، د دولتي محرمیتونو د بنسټیزه کېدلو له لارې اعاده کړای شول. هغه په انګلستان کې د دولتي محرمیتونو په امتیاز (SSP) کې یې بدلون وموند، تر کوم یوه لاندې چې پاچا د 'د سلطنتي امتیاز' څخه خوند اخیسته، یعني د هغه مطلقه حق لرل چې د پارلمان او یا محکمو سره د معلوماتو د شریکولو څخه ډډه وکړي. د متحده ایالاتو ستري محکمې د حکومت د دولتي محرمیت د ساتلو د امتیاز(SSP) یا 'اجرایوي امتیاز' ادعا کابو د سړې جګړې په ټوله موده کې

22 For an account of the historical evolution of secrecy and transparency, see Riese, Dorothee. 2014. "Secrecy and Transparency", paper presented at the ECPR General Conference in Glasgow, 3-6 September 2014. Available at: http://ecpr.eu/Filestore/PaperProposal/2cedead9-5191-42de-ae36-7d320a28a304.pdf

حمایت کړله، متحده ایالات Reynolds v (1953). کله چې د (SSP) تقاضا کېږي، حکومت یوه قسم نامه وړاندې کوي چې پکې وایي چې د محکمې هر ډول بهیر به د هغه راز د افشاکولو احتمالي ګواښ ولري ، کوم چې به ملي امنیت ته یو تهدید وي او وروسته د محکمې څخه غواړي چې هغه قضیه منحصراً د هغو دلائلو پر اساس مرخصه کړي. کېدای شي داسې وویل شي چې د نني ورځې متداول دیموکراتیک سیاسي فرهنګ د فضیلت په توګه پرانیستوب او شفافیت علناً څرګندوي، په داسې حال کې چې رازلرل او اختفاء د ګناهونو/ نواقصو په توګه بدناموي. په دغه مفهوم کې، د دولت امتیازي حق چې معلومات د یوه محرمیت تر نامه لاندې درجه بندي کوي تر ډېره تر پوښتنې لاندې راځي، شاید ځکه چې د هغې څخه په پراخه توګه ناوړه ګټه اخیستله شوې ده. د ډېرو لپاره، عامه ګټې، او له همدې کبله ملي ګټې، د شفافیت له لارې بهتره حفاظت کېږي، د دې پر ځای چې د پټ کاریو لا لارې وساتلې شي، کومې چې داسې ګڼل کېږي چې د شخصي ګټو په خدمت کې دي او یا د هغو کسانو د اجنداوو په خدمت کې دي کوم چې سیاسي یا بوروکراتیک واک اداره کوي د دې پر ځای چې د ملت عامه ګټې وساتي.

د دولتي محرمیتونو سره یوه لویه ستونزه دا ده چې هغوی باید د هېواد په مبهمه توګه تعریف شویو امنیت او دفاع محافظت وکړي. دا نامشخصه تصورات دي. ملي قانون ډېر کله ملي امنیت، دولتي امنیت، عامه امنیت، عامه مصئونیت، ملي دفاع، ملي ګټې، دولتي محرمیتونه، د سلطنت د قلمرو امنیت، او د خلکو او په همدې ډول نور یو د بل پر ځای په معاوضه توګه یادوي. حکومتونه، یا معلوماتو ته په قوانینو کې او یا د رسمي دولتي محرمیتونو قوانینو کې یو انشعاب راولي، په کوم یوه کې چې دا مبهمه مفهوم، کوم چې د ملي قانون لخوا تعریف شوی ندی، د هغوی د اتباعو د معلوماتو په اړه د غوښتنې په وړاندې مخالفت کوي. په دې ډول، هغه معلوماتو ته د آزاد لاسرسي په وړاندې یو خنډ ګرځي کوم چې هیڅ ډول مسلم قانوني منل شوي معیارونه نه پرځای کوي. د دغه ډول یوه نامشخص تصور کارونه داسې یو لوړ احتمالي ګواښ ته مو هدایتوي چې له وجې یې اجرایوي واک او یا محرم خدمتونه کېدای شي په خپل زړه عمل وکړي چې معلومات د خلکو له نظره پټ وساتي.[23]

د شفافیت د رسمي قانوني اعلامیو سره سره، د یوې عمومي قاعدې او راز په توګه یوه استثنا وي، د شلو هېوادونو په یوه غوښ اکثریت کې چې د Jacobsen (24 لاندینی ووړ نوټ ووینئ) له خوا یې سروې شوې، چیرې چې یو شک شته چې آیا د معلوماتو افشاکول به ملي امنیت ته زیان ورسوي، قانون د افشاکولو پر خوا ندی. یوازې دا لاندې هېوادونه د افشاکولو سره رضایت لري که چیرې په شک کې وي: بلجیم (تر هغه وخته چې معلومات درجه بندي کېږي)، ناروې او سویډن. خو بیا هم، په ناروې کې هغه معلومات چې د یو لړ مقاماتو لخوا راټول شوي(د بېلګې په توګه د پوځي استخباراتي خدمتونو لخوا)، په اتوماتیکه توګه درجه بندي کېږي او د معلوماتو افشا کول د دغو مقاماتو لخوا د دوی په لزوم لید پورې اړه لري، د Jacobsen له قوله.

په OECD او اروپایي هېوادونو کې (د سویډن په استثنا)، د درجه بندي شویو (محرمو) معلوماتو په اړه په عمومي توګه عامه ګټې په نظر کې نه نیسي. په جرمني کې، د بېلګې په توګه، د عامه ګټو مفهوم استدعا یوازې د دې لپاره کېږي ځکه چې د عامه ګټو د معلوماتو د محرمیت د ساتلو په اړه وي، نه د دې اندېښنې له کبله چې افشا یې کړي.

دا خبره باید په نظر کې ونیوله شي چې یو لړ هېوادونه داسې محدودې جوړوي چې معلوماتو ته لاسرسی محدود کړي: د بشري حقونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه، د یوه حکومتي نهاد شتون او یا نشتون (مثلاً یوه د جاسوسۍ اېجنسي او یا د ځانګړو عملیاتو پولیسي ډله) یا د چاپېریال د ساتنې اړوند مسئلې نشي کېدلای چې معلوماتو ته د آزاد لاسرسي څخه مستثنا کړای شي. که چیرې معلومات درجه بندي شوي

23 Jacobsen, Amanda L. 2013. "National Security and the Right to Information in Europe". http://www.right2info.org/resources/publications/national-security-page/national-security-expert-papers/jacobsen_nat-sec-and-rti-in-europe
See also: Bigo, Didier et al. 2014. "National Security and Secret Evidence in Legislation and Before the Courts: Exploring the Challenges". European Parliament. Study for the LIBE Committee: Available at: http://www.europarl.europa.eu/RegData/etudes/STUD/2014/509991/IPOL_STU(2014)509991_EN.pdf

(محرم شوي) وي تر څو يو جنايي جرم، د واک څخه ناوړه ګټه اخيستنه او يا دغه ډول غيرقانوني چلند د عامه چارو د چارواکو لخوا پټ کړای شي، درجه بندي په يو لړ هېوادونو کې لکه سويډن باطله ده. له بده مرغه، په ډېرو نورو هېوادونو کې دا ډول يو معلومات کېدای شي درجه بندي کړای شي.

د Cousido González (2015) له قوله، په اروپايي هېوادونو کې د رسمي محرميتونو قانون دوې بېلابېلې رشتې تعقيبوي کله چې خبره د ملي امنيت او يا دفاع په اړه د محرمو معلوماتو د افشا کولو په هکله وي.[24] يو رشته (په جرمني، فنلنډ، فرانسې، پرتګال، ايتاليا، ليتوانيا، پولنډ، هالنډ او سلوانيا کې تطبيق شوې) د معلوماتو تر خپرلو وړاندې شرايط تحميلوي، لکه د زيان د بېلابېلو ډولونو ازموينې، چې وښيي چې دا افشا کوونه به ملي امنيت ته زيان ونه رسوي. سويډن د دې ډول يوې شېوې يو ډول کاروي، په کوم يوه کې چې دا ضروري ده چې ملي امنيت ته د هغې ګټې په پرتله چې عامه منافعو ته د دې معلوماتو د افشا کولو په نتيجه کې اوړي د شوني زيان انډول او ارزونه وشي.

نور هېوادونه (بلغاريا، د چک جمهوريت، آيرلنډ، کرووېشيا، رومانيا، ترکيه او برتانيا) کله چې خبره د ملي امنيت په اړه وي، هغه کرښه تعقيبوي چيرې چې عامه منافعو ته د معلوماتو د افشا کولو له وجې د زيان نه کومه ازموينه او نه هم ارزښت موندنې ته اجازه ورکوله کېږي. دغه معلومات به اصلاً نه خپاره کېږي/افشا کېږي. خو بيا هم، په برتانيې کې معينې مسئلې د ' د لازمو شرايطو د درجه بندۍ معافيت' تر پوښښ لاندې راځي، په کوم ځای کې چې د زيان ازموينه تطبيقېږي او دا زيان بايد د هغې اداري لخوا په اثبات ورسول شي چې معلومات يې په اختيار کې دي.

د فرانسې پرته د اروپايي اتحاديې نور غړي هېوادونه د هغو پرېکړو بيا کتنې ته اجازه ورکوي چې درجه بندي شويو معلوماتو ته د ملي امنيت پر بنسټ د لاسرسي څخه ډډه/انکار کوي. په فرانسه کې، هيڅ يوه قاضي ته دا صلاحيت ندی ورکړل شوی چې درجه بندي شويو اسنادو ته لاسرسی پيدا کړي. خو بيا هم، يو خپلواک اداري مقام شته، CCSDN (Commission consultative du secret de la défense nationale)، کوم يوه ته چې دا حق ورکړل شوی چې درجه بندي شويو / محرمو معلوماتو ته لاسرسی ولري. دا مقام هيڅ ډول صلاحيت نلري چې د هيڅ ډول اسنادو د محرميت څخه د ايستلو امر صادر کړي، خو يوازې کولای شي چې د مسئلې په هلکه سلامشورې ورکړي.

د فرانسې برعکس، د OECD او د اروپايي اتحاديې EU د غړو هېوادونو په يوه غوڅ اکثريت کې قاضيان کولای شي د معلوماتو د افشاکولو امر صادر کړي که چيرې دی/دا په دې خبرې متقاعد شوي وي چې هغو ته اړتيا نشته چې محرم وساتل شي، د عامه چارو د اداري مقام د ټينګار سره سره چې د ملي امنيت ملاحظات د دغو معلوماتو د محرم ساتلو توجيه کوي. په هسپانيې کې ، خو بيا هم، يوازې ستره محکمه، نه يو انفرادی قاضی کولای شي دا درجه بندي/ محرميت راوګرځوي.

په OECD او د اروپايي اتحاديې EU په غړو هېوادونو کې د يوه سند په محرمه درجه بندۍ کې ساتلو موده يو له بل سره توپير لري. تر ټولو په معموله توګه تجويز شوې موده دېرش کاله ده، خو معمولاً د تمديد وړ ده، که څه هم دا کار به د سند د محرميت په کچه پورې اړه ولري( تر ټولو په لوړه کچه محرم اسناد/ اشد محرم، محرم اسناد، راز لرونکي يا د محدود استعمال وړ). يوه معينه شمېره هېوداونه د مودې يو اعظمي محدوديت نه وضع کوي (د بېلګې په توګه، پولنډ، هسپانيا، او ترکيه).

د محرميت د درجې څخه د ايستلو غوښتنه کېدای شي د عامه خکو لخوا په اکثريت هېوادنو کې وشي، خو د عامه چارو مقامات په سادګۍ سره کولای شي دغې غوښتنې ته د رد ځواب ورکړي، کاملاً د خپل لزوم ليد پر بنسټ.

24 González, M.P.C. 2015. "Official Secrets and the Right of Access in Spain after the Enactment of the Law on Transparency". *EJoCLI* (2015) 21(2). Available at http://webjcli.org/article/view/357/561

د درجه بندي شويو معلوماتو غير مجاز افشا کول په ټولو هېوادونو کې يو جرم دی، که چيرې مرتکب يې د عامه چارو يو کارکوونکی وي چې درجه بندې شويو معلوماتو ته ورته لاسرسی اعطا شوی دی. خو بيا هم، ځانګړي قانوني چلندونه يو له بله توپير لري. يو لړ هېوادونه يوازې نړيوالي افشاکونې په قانوني توګه تعقيبوي، په داسې حال کې چې په نورو کې د غفلت/ بی دقتۍ په نتيجه کې افشاکونې تر قانوني تعقيب لاندې راوړي. يو لړ هېوادونه واضحو شواهدو ته اړتيا لري چې وښيي چې يوه عامه مهمه ګټه د افشا کولو په نتيجه کې له ګواښ سره مخامخ شوې ده. په يو لړ هېوادونو کې جزا يوازې هغه کس باندې تحميلېږي چې د دغو درجه بندې شويو معلوماتو د ساتنې دنده يې پر غاړه درلوده. په نورو کې، جزايي مسئوليت عمومي دی: هر هغه څوک چې دا معلومات کاروي کېدای شي مجازات شي، د خبريالانو/ ژورناليستانو په ګډون. د مجازاتو د شدت/ سختۍ درجه له يوه هېواده تر بل پورې توپير لري (په ډنمارک کې د دوو کلونو بندي ګرۍ څخه نيولې بيا په ترکيه کې عمري بند دی).

د درجه بندي شويو معلوماتو غيرمجاز افشا کول د افشاګرۍ د قانوني محافظت مسئله راپورته کوي. دا يوه ستونځمنه/ د جر او بحث وړ موضوع ده، پر کومې يوې چې به موږ په دقيقه توګه د دغې ليکنې په بل فصل کې تاکيد وکړو. د 'پرې پوهېدلو حق' محدوديت د دولتي محرميتونو د رازدارۍ پر اساس د محروميت ديموکراتيک مشروعيت د شفافيت د ديموکراتيک مشروعيت په وړاندې يو ځای تعيينوي، کوم چې تر ډېره د يوې نمايشي ديموکراسۍ تصور ته ذاتي وي.

وروستۍ خبره دا ده چې د دولتي رازونو محافظت مشروعيت لري تر هغه ځايه چې توجيه شوی وي، په داې حال کې چې شفافيت کومې توجيې ته اړتيا نلري. خو بيا هم، په ډېرو ديموکراتيکو هېوادونو کې دا خبره د واقعيت څخه ډېره ليرې ده. سر بېره پر دې، د 'پرې پوهېدلو حق' او د دولتي محرميتونو محافظت په مخالفو استقامتونو کشېږي. ډېر خلک خپل دې باور ته دوام وکوي چې ملي امنيت او ملي دفاع بايد د قانون د ديموکراتيکې سپړنې / ارزونې څخه بهر وساتل شي.

خو بيا هم، ډېر خلک په تدريج سره د دې نظر پلوي کوي چې ملي امنيت او دفاعي چارې به په بهتره توګه محافظت کړای شي که چيرې د عامه سپړنې/ ارزونې او قضايي بياکتنې په معرض کې واقع وي. کېدای شي پکار وي چې يو اوږد واټن طی کړاش شي مخکې له دې چې د دولت د ديموکراتيک او قانوني کنټرول عناصر چې امنيتي او دفاعي چارو ته رسېدنه کوي، تر لاسه شي. دا د دولت د حکومت يو ساحه ده چيرې چې د قانون حاکميت ( د اختياري هغو مخالف) په عامه اداره کې تر زياته نشتون لري، تر هغه ځايه چې ډېرې پرېکړې د عامه چارو کارکوونکو د لزوم ليد سره تر سره کېږي.

د سمو معلوماتو او د دولتي محرميتونو محافظت چې په ملي امنيت او دفاع پورې اړه لري تر مينځ د يوه سالم انډول د لاسته راوړلو په لور يو مهم ګام د Tshwane Principles د اصولو لخوا وړاندې شوی دی(د ملي امنيت په اړه نړيوال اصول او معلوماتو ته د لاسرسي حق)، چې په Tshwane، Pretoria پريتوريا او جنوبي افريقا کې د 2013 کال په جون کې ومنل شو. دغه سند د مدني ټولنې سازمانونو او اکاډميکو مرکزونو د ګډې هڅې له لارې ، د نړيوالو کارپوهانو او د اظهاراتو د آزادۍ ځانګړو ګزارش ورکوونکو، د بشري حقونو او د ترهګرۍ ضد د بېلابېلو په حکومت کې داخلي سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو، د امرکايي دولتونو د سازمان (OAS)، په اروپا کې د امنيت او همکارۍ سازمان او (OSCE) او د خلکو او بشری حقونو په هکله د افريقا کميسيون (ACHPR) لخوا جوړ شوی وو.[25] د دغه سند شېوه لړکۍ ده، په دې چې معلوماتو ته د لاسرسي محدوديتونه نبايد د اساسي کرښو تر معيارونو ټيټ ولاړ شي چې پکې نغښتي دي، په داسې حال کې چې دولتونه تشويقېږي چې د پرانيستنې يوه ډېره لويه کچه برابره کړي.

25 Available at: http://www.right2info.org/exceptions-to-access/national-security/global-principles

## معلوماتو ته ازاد لاسرسی او د افشراګرو محافظت

د ښه نیت افشاګرو حفاظت د سکې بله خوا ده چې معلوماتو ته لاسرسی تر لاسه شي. څرنګه چې وړاندې پدې لیکنې کې وښودل شول، دواړې خواوې د بیان د ازادۍ د حق بنسټیز اړخونه دي. معلوماتو د لاسرسي د حق په شان، د افشاګرو حفاظت خو بیا هم د دیموکراتیکو هېوادونو په ډېرکو کې تر اوسه پورې تضمین شوی نشو بللای.

برعکس، ډېری هېوادونه کولای شي د عامه چارو پرسونل محکمه کړي که چیرې دوی د ملي امنیت درجه بندي شوي معلومات افشا کړي کله چې یو داخلي شکایت وړاندې کوي (بلجیم، د چک جمهوریت، فرانسه، هنګري، ملداویا، ناروې، پولنډ، رومانیا، روسیه، سلوانیا، هسپانیا او سویډن).[26] په متناقضه توګه، ډېر هېوادونه عامه مامورین هڅوي چې د ناوړو کړنو په هکله چې دوی کېدای شي لیدلي وي داخلي شکایتونه وړاندې کړي، خو لږو هېوادونو د غچ اخیستنې په وړاندې حفاظتي میکانیزمونه تاسیس کړي، د برتانیې د پام وړ استثنا پرته، چیرې چې د عامه ګټو د افشاکولو قانون (PIDA) د انتقام په صورت کې د خسارې جبران برابروي، د هغو کسانو پر وړاندې چې غچ اخلي د دسپلیني تدابیرو سره یوځای، او همدارنګه په امریکې کې.

کله چې خبره په محکمه کې د افشاګرو د تبرئې په هکله وي، په دنمارک کې د عامه ګټو ازموینه دا تقاضا کوي چې تورن کس معلومات افشا کول تر څو یوه ښکار عامه ګټه تر لاسه کړي او دا چې دا ګټه د محرمو معلوماتو تر ساتلو لومړیتوب لري. ډېری هېوادونه دا تقاضا کوي چې ملي امنیت ته د واقعي احتمالي زیان چې د دې افشاکونې په نتیجه کې رسېږي باید په اثبات ورسي تر څو جرمي مجازات تحمیل کړای شي ( د بیلګې په توګه جرمني، ایتالیا،هالنډ، ناروې، هسپانیا، او سویډن). نور هېوادونه ملي امنیت ته د رسېدلي زیان د شواهدو تقاضا نه کوي (لکه بلجیم، فرانسه، هنګري، پولنډ، روسیه، سلوانیا، ترکیه او بریتانیا)، ان که د هغو یو تعداد دا خبره ومني چې ملي امنیت ته د زیان نشتون کېدای شي د تخفیفوونکو شرایطو په توګه په جنایي محکمه کې د افشاګرو په وړاندې احضار کړای شي.

یو لږ هېوادونو (د 20 څخه 6 چې Jacobsen یې څېړنه کړې وه (23 نمبر د پای نوټ وګورئ) د افشاګرو د حفاظت لپاره قوانین تصویب کړي دي، لکه هنګري، رومانیا، سربیا، سلوانیا، سویډن او برتانیا. ډېری هېوادونه کوم چې د افشاګرو د حفاظت لپاره یو بېل ځانګړی قانون نلري، افشاګرو ته د نورو قوانینو په واک حفاظت برابروي، په داسې حال کې چې نور هیڅ ډول حفاظت نه برابروي. هغه هېوادونه چې حفاظت برابروي، په امنیتي سکتور کې د حقوقي حفاظت په ابعادو کې پرسونل شاملوي. خو بیا هم، په عمومي توګه، د افشاګرو د حفاظت ښه کېدل په ډېرو اروپایي هېوادونو کې یوه هیله ده چې تر ډېره یې انتظار کېږي. د Tom Devine له قوله، دوی ته د هیڅ شي وړاندیز ندی شوی، مګر 'د کاغذي لوحې' چې په مټ یې د خپل ځان حفاظت وکړي.[27]

د افشاګرو حفاظت تر اوسه په ډېرو هېوادونو کې یوه مستحکمه تګلاره نده، په ځانګړې توګه کله چې خبره د هغو افشاګریو په هکله وي چې د وسله والو قواوو او استخباراتي خدمتونو ، او یا د دولتي محرمیتونو په اړه وي چې دغو ته په ورته ډول درجه بندي شوي وي، د فعالیت په هکله معلومات افشا کوي. په نورو برخو کې، لکه د فساد افشاکول، ناوړه اداره او یا ناوړه کړنې ، په یو لږ هېوادونو کې وضعیت بهتره دی، خو په عمومي توګه د افشاګرو حفاظت همدارنګه په دغو وروسته ذکر شویو ساحو کې ډېر کمزوری دی.

26 Jacobsen.

27 http://www.whistleblower.org/sites/default/files/pictures/Best_Practices_Document_for_website_March_13_2013.pdf

د مدني ټولنې د سازمانونو د باخبرۍ د کچې د لوړولو هڅې چې د نړیوالې تګلارې په صحنه کې فعالیت کوي، پر حکومتونو فشار راوړي چې د افشاګرو د حفاظت د تګلارو په وده کې په یوه لا غوښې پرېکړې کولو سره ورښکېل شي. په همدې ډول، نړیوال سازمانونه لکه ملګري ملتونه، د اروپا شورا، د OECD، OAS او داسې نور خپلو غړیو هېوادونو ته سلامشورې ورکوي چې د ښه نیت افشاګرو حفاظت دې جدي ونیسي، که چیرې دوی غواړي چې د فساد سره مبارزه وکړي. دغه وړاندیز د غور وړ دي، ان که هغه د ډېرو تاریخي لا له وړاندې تشکیل شویو عقایدو/ تعصباتو سره په ټکر کې واقع کېږي.

افشاګري د بد ویلو یو عمل دی، چې د بې عدالتۍ، عامه چارو چارواکو یا د خصوصي سکتور د مخکښو موسسو د بداخلاقیو / فساد، لکه بانک، خپرې شویو رسنیو، کلیساوو او داسې نورو په وړاندې د یوه کس د وجدان د په طغیان راتللو څخه راپیدا کېږي. هغه عملونه چې افشاګران یې پر وړاندې بغاوت کوي په خاصه توګه د عادي اتباعو په نظرونو کې کرکجن او ناخوشایند دي. دا یې یو لامل دی چې ولې په فرانسه کې جر او بحث او مناظرې رواني دي، د بېلګې په توګه، د افشاګرو لپاره د غښتلي حفاظت برابرولو مدافعین، لکه وکیل William Bourdon په جزایي قضایاوو کې، چیرې چې د محرمو معلوماتو افشا کول د عامه ګټو لخوا اخلاقاً غوښتل کېدل، د یوې استثنا ‘exception de citoyenneté’ په توګه د تبرئې یا د تخفیف ورکوونکو شرایطو وړاندیز کوي.[28]

کرکجن اعمال ضمناً په ټولنیزه توګه د شریک شویو اخلاقي او حقوقي نورمونو څخه تمرد ته ویل کېږي، د کومو په نتیجه کې چې مرتکب د خپل ځان یا خپلې ډلې لپاره د پراخې ټولنې په لګښت ګټه پورته کوي. که چیرې په بربنډه توګه وپېژندل شي، دغه اعمال کولای شي چې د هغو د مرتکبینو او یا محرکینو شهرت/اعتبار او مشروعیت ویجاړ کړي. د ناوړو اعمالو په ټولیزه او بربنډه توګه فاشول مسئول کسان بدنامه کوي، بعضې وختونه د تل لپاره، لکه چې ‘Deep Throat’ د واټر ګېټ Watergate په قضیه کې ترسره کړل.

د افشاګرۍ د محافظت مقررات کولای شي ملکي مامورین او یا فعال اتباع وهڅوي چې د نورو په لاس ترسره شوي ناوړه کړه وړه افشاءکړي، د دوی د آمرینو په ګډون، څوک چې په پوره توګه واکمن دي چې د دغو افشاګرو څخه غچ واخلي. خو بیا هم، د افشاګرۍ د حفاظت تګلارې په مفهومي ډول ګرانې دي، په سیاسي ډول له ګواښه ډکې دي، په اوپراتیفي توګه پېچلې دي او په ډېرو هېوادونو کې همدارنګه بحث انګېزه دي.

دا مفهومي ننګونه په هغه واقعیت کې ریښه ځغلولې چې د افشاګرۍ تعریفول د یوه فعالیت په توګه چې د عامه حفاظت مستحقه ده، یو مشکل کار دی. دا کار د فرهنګي تبعیض ډک دی او ضمني دلالت نفي کوي. په واقعیت کې، افشاګري په ډېرو ذهنونو کې د مخبرۍ او عامه بدګویۍ سره تړلې ده، په تېره بیا په هغو هېوادونو کې چې لا تر اوسه پورې د مطلقه سیاسي رژیمونو یادونه ساتي.

28 http://www.liberation.fr/france/2010/12/24/pour-une-exception-de-citoyennete_702803

همدارنګه، د ‘د خپل نظم ابرابرولو ټولنه‘ په اروپا کې ، او په بل ځای کې، د خلکو، د سیاسي رهبرانو او د نظم د تأمینوونکو مقاماتو تر مینځ د اړیکو د یوه خصوصیت په توګه، چیرې چې د ‘ښه اتباعو‘ دنده دا ده چې مقاماتو ته خبر ورکړي چې د جرایمو د ماموریت په وړاندې خنډ وګرځي، مجرمین راپیدا کړي او اوسنی نظم وساتي، په ښه توګه مستحکمه شوې ده. دا داسې ښیي چې د ټولنې عامه نظم پخپله د هغې د اتباعو په مټ تر لاسه شوی دی. د Panopticon په اړه د Bentham تیوري، څرنګه چې د panopticism په تیورۍ کې د Michel Foucault لخوا فورمولبندي شوې (یعني، هغه ټولنه چې ټول پکې لیدل کوي په کومه کې چې هیڅ څوک د نظارت څخه خلاصون نلري) هڅه کوي چې دغه ټولنیزه عاطفه او احساس تصرف کړي.[29]

خو بیا هم ډېر خلک یو دوه جنبه یي یا په سادګۍ سره د بد ویلو/ تورنولو په وړاندې یو منفي چلند لري. د نورو په هکله بد ویل مقاماتو ته د یوه بل تبعه د ناوړو کړو وړو په هکله ویل دي په دې هیله چې هغه به مجازات شي. د مدني تقوا لفاظي، د کومې په مرسته چې حکومتونه، ښوونځي، بندي خانې او نور تړلي بنسټونه د تور تړلو چارچاپېر د یوې متضمنې افشاګرۍ ضد سره یو ځای اوسېږي، تور تړل پکې د خیانت یو عمل ګڼل کېږي. د تور تړلو/ بدګویۍ په اړه دوه جنبه یي توب په ډېرو ژبو کې یوه موازي لغتنامه تولید کړله: فرانسویانو د dénonciation باستاني دوګانګي لري (د بدګویۍ / تور تړلو یو ښه ډول) او délation یا indicateur (بد ډول یې)؛ روسان تحقیر آمېزه -donos/dono schik لري چې د بېلا بېلو رسمي نامطلوبو کلمو لپاره د نېکو کلمو څخه کار اخلي euphemisms؛ امریکایان د افشاګرو څخه ښه وړي خو د شیطانانو/ مخبرانو کرکه کوي، د یوه وطنپالونکي عمل په توګه چې یوه محرمانه موضوع تر یو ځایه رسوي د پست فطرتانه چغلۍ د عادت څخه (Fitzpatrick).[30] موږ به د هسپانیایي denunciante د تحقیر کوونکي delator، soplón یا chivito په وړاندې هم یو ورزیات کړو.

په دې کې شک نشته چې د افشاګرۍ حفاظت له سیاسي پلوه د احتمالي ګواښ لرونکی دی. افشاګري کولای شي د پام وړ سیاسي ستونزې د هېواد او یا د هغه د حکومت لپاره جوړې کړي. په دې وروستیو کې یې یوه بېلګه په متحده ایالاتو کې د ادوارد سنودن Snowden قضیه، او همدارنګه د Bradley Manning (اوس Chelsea) په واسطه د معلوماتو افشا کول دي. هم Manning او هم Snowden دواړه د ډېرو خلکو لخوا د واقعي افشاګرو په توګه پېژندل شوي، چا چې د حکومت د ناتوجیه شویو جاسوسیو او قساوت په افشا کولو کې مرسته وکړه. له بل پلوه دوی داسې معلومات افشا کړل چې د درجه بندۍ له پلوه محرم تعریف شوي ول.د امریکې د حکومت له قوله، د دغو معلوماتو افشاکولو د انسانانو ژوند له خطر سره مخامخ کړ. دغې دوې قضیې د افشاګرۍ پېچلتوب او ورسره تړلې اخلاقي معما په روښانه توګه توضیح کوي. دوی همدارنګه د بنسټونو پر مسئولیتونو ټینګار کوي چې باید سیاسي مقامات او همدارنګه عام خلک د هغو مسئلو په اړه چې باید په پرانیستې توګه تر غور لاندې ونیولې شي، خبر کړي. د افشاګرو د حفاظتي چوکاټ د جوړولو لپاره احتیاط او انډول ته اړتیا ده.

ستونزه پدې کې ده چې داسې یوه لاره پیدا شي چې په یوه قانوني چوکاټ کې یو انډول برابر کړای شي تر څو وکړای شو د هغو کسانو حفاظت وکړو چې بلې خواته د کتلو ریاکارۍ پر وړاندې بغاوت کوي. یوازې د اروپا د نفوس 30% د دې لېوال دي چې د دولت محرمیات افشا کړي، په داسې حال کې چې دغه شمېره د امریکې د متحده ایالاتو لپاره 50% ته رسي.[31] افشاء کول هغه خپل ځاني انځور مختلوي کوم چې ټولنو په خپل تېر او اوسنۍ موده کې جوړ کړی دی. افشاګر کېدای شي د سیاسي بېلګې/الګو په بدلولو کې په هغو ټولنو کې چې دوی ژوند

29 Foucault, Michel. 1975. *Surveiller et punir. Naissance de la prison*. Paris: Éditions Gallimard.

30 Fitzpatrick, Sheila. 2005. "A Little Swine". Review of *Comrade Pavlik: The Rise and Fall of a Soviet Boy Hero* by Kelly, C. *London Review of Books* [Online] vol. 27 no. 21 pp. 3-6. Available at http://www.lrb.co.uk/v27/n21/sheila-fitzpatrick/a-little-swine

31 Figures provided by Florence Hartmann. 2014. *Lanceurs d'alerte*, Paris: Don Quichotte.

پکې کوي مرسته وکړي، که چیرې له دوی سره د 'مسلکي افشاګرو' لخوا مرسته وشي، لکه ژورنالستان او غیرحکومتي سازمانونه، خو دوی په عمومي توګه مجبور دي چې د دې کار په مقابل کې ډېره ګرانه بیه ورکړي.

د دې لپاره چې د افشاګرۍ د حفاظت تګلاه اغېزناکه وي، هغې ته هراړخیز قانوني چوکاټونه او یوه بنسټیزه دولتي دستګاه پکار دي چې داسې د اعتماد وړ او توانا واوسي چې د افشاګرو لپاره 'فلزي لوحې' برابرې کړې، نه 'کاغذي لوحې'. که نه وي نو، دا تګلاره کېدای شي ډېره زیان راوړونکې وي. یو لړ شمېر هېوادونه، که چیرې هم وي، ځانونه داسې ښیي چې د دې توانایي لري چې یو ښه متقابلاً فعال میکانیزم جوړ کړي.

ډېرى نړیوال سازمانونه، د ملګرو ملتونو، اروپایي شورا، د OECD او امریکایي دولتونو سازمانونه (OAS) په ګډون د افشاګرۍ د محافظت تګلارې ترویجوي. د 2013 کال د مارچ په میاشتې کې OAS ان د قانون د یوه ماډل وړاندیز وکړ تر څو وکولای شي چې دفساد د عمل په رپوټ ورکولو کې تشویق شي او چې د افشاګرانو او شاهدانو محافظت وکړي.

تر نني ورځې پورې په لاسرسي کې نړیواله لنډه تجربه ښیي چې د افشاګرو د حفاظت د بریالیتوب د تګلارې یو عامل دا دی چې یوه هر اړخیزه حقوقي شېوه وکاروله شي او چې د بیان د آزادۍ د محافظت د یوې سرحدي تګلارې په مټ چوکاټ کړای شي. دا کار د افشاګرو د محافظت په هکله یوه خپلواک، وقف شوي قانون ته اړتیا لري، لکه د برتانیې او د متحده ایالاتو په شان، کوم چې د دوی خپلو ملي فرهنګونو ، سوابقو او دملي تګلارو څخه رازېږېدلي دي. یو لړ شمېر هېوادونه په اروپا کې او یا کوم بل ځای کې داسې قوانین لري چې په اغېزناکه توګه کار کوي. په واقعیت کې، د هېوادونو په اکثریت کې حکومتونه د افشاګرو د محافظت په لور زړه نازړه/ په ټکنۍ توګه برروان دي.[32]

32 Transparency International. 2013. "Whistleblowing in Europe: Legal Protections to Whistleblowers in Europe". Available at: http://www.transparency.org/whatwedo/publication/whistleblowing_in_europe_legal_protections_for_whistleblowers_in_the_eu

که چیرې یو یوازې/خپلواک قانون د افشاګرو د محافظت په اړه په دسترس کې نه وي، لږ تر لږه د عامه خدمتونو په قانون کې باید یو لړ مقررې طرح کړای شي چې د عامه چارو د هغو مامورینو لپاره چې د غیرقانوني او په اخلاقي لحاظ تر پوښتنې لاندې هدایاتو د پرځای کولو څخه ډډه وکړي، او یا چې غیر قانوني اعمال کشف کړي، یو ډول نه یو ډول حفاظت برابر کړي. د عامه خدمتونو مقامات باید داسې کړنلارو ته وده ورکړي چې دغه حفاظتونه اغېزمن کړي. د عامه خدمتونو قانون باید همدارنګه داسې مقررات په ځان کې ولري چې تېری او غچ اخیستل غیر قانوني اعلان کړي. دا کار به د هغو مدیرانو پر ضد د دسپلیني اقداماتو د تحمیولو اجازه ورکړي، کوم چې د هغو عامه خدمتونو د مامورینو په وړاندې غچ اخیستونکي اقدامات کوي، کوم چې ځانته دا جرئت ورکوي چې د غیرقانوني اوامرو د پرځای کولو څخه سر غړوي. د عامه خدمتونو قانون باید همدارنګه د عامه چارو خدمتونو په قراردادونو کې د 'مانع کوونکو' بندونو شتون بند کړي او باید 'مانع کوونکي امرونه' غیر قانوني اعلان کړي.

د دغو مقرراتو لپاره حقوقي زمینه کېدای شي د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو د 2003 کال په کنوانسیون کې پیدا شي، کوم چې د مدغمو مناسبو تدابیر وړاندیز کوي (article 33) چې د هر غیر موجه چلند د هر هغه کس پر وړاندې کوم چې د ښه نیته او پر منطقي استدلال ولاړ با صلاحیته مقاماتو ته د فساد اړوند جرمونو په هکله رپوټ ورکوي. موږ همدارنګه کولای شو هغه حقایق ورزیات کړو چې ناوړه مدیریت، د بشري حقونو تر پښو لاندې کول او بې قانونۍ په ځان کې رانغاړي. د افشاګرو د محافظت په هکله د OECD او د اروپا د شورا توصیې نورې سپارښتنې برابروي چې کېدای شي د ښه حکومتولۍ تګلارې په هغو هېوادونو کې تشویق کړي کوم چې په خپلو عامه چارو په ادارو کې داسې لېوالتیا لري چې لا نور شفافیت او پرانیستنه تعقیب کړي ، د ملي امنیت او دفاع د ساحو په ګډون.[33]

د افشاګرۍ لا نورې کیسې رسنیو ته رارسېږي او مرسته کوي چې د ستونزو په هکله د باخبرۍ کچه لوړه شي، په دې ډول د عامه بحثونو او مناظرو د غښتلوالي لامل ګرځي کوم چې کولای شي د افشاګرو لپاره د لا نور یوه غښتلي حفاظت د ودې سره مرسته وکړي.[34]

---

33 OECD. 2012. "Whistleblower protection: encouraging reporting". Available at: http://www.oecd.org/cleangovbiz/toolkit/50042935.pdf See also the Council of Europe's Committee of Ministers' Recommendation CM/Rec (2014)7 on the protection of whistleblowers. Available at http://www.coe.int/t/dghl/standardsetting/cdcj/CDCJ%20Recommendations/CMRec(2014)7E.pdf

34 European examples include *Marianne*, a French magazine, which on 9 May 2014 published a comprehensive reportage on the matter (http://www.ebay.fr/itm/MARIANNE-N-890-9-MAI-2014-MARIAGES-MIXTES-Ve-REPUBLIQUE-LANCEURS-DALERTE-/291193077163) or the British newspaper *The Guardian*, which on 22 November 2014 published a compelling report on the matter (http://www.theguardian.com/society/2014/nov/22/there-were-hundreds-of-us-crying-out-for-help-afterlife-of-whistleblower)

# نتيجې اخيستنې

د دغې ليکنې اصلي وړانديز دا دی چې د دولتي راز حفاظت تر هغه وخته قانوني دی، تر کومه چې توجيه شوی وي، په داسې حال کې چې شفافيت هيڅ ډول توجيې ته اړتيا نلري. خو بيا هم، دا په ډېرو هېوادونو کې د حقيقت څخه ډېره ليرې خبره ده . سربېره پر دې، د 'د پرې پوهېدلو حق' او د دولتي رازونو حفاظت په مختلفو استقامتونو ځان کشوي. ډېر خلک خپل دې باور ته دوام ورکوي، په غلطه، چې ملي امنيت او دفاع بايد د تعريف له مخه د قانون او ديموکراتيکې سپړنې د نظرې محدودې څخه بهر وساتل شي.

1. د اتباعو هغه حق چې هغو معلوماتو ته لاسرسی ولري چې د دوی د پرې پوهېدلو حق پرځای کوي چې د دوی حکومت څه کوي تر اوسه د جوړېدلو په حال کې دی. په داسې حال کې چې دا په ډېرو هېوادونو کې لا تر اوسه په جنين کې دی، په نورو کې دا اصلاً هيڅ شتون نلري. خو بيا هم، واقعي ديموکراسۍ معلوماتو او شفافيت ته د لاسرسي پرته کار نشي کولای. نن ورځ، شفافيت او پرانيستنه په حکومت کې د ښه حکومتولۍ وړاندشرطونه جوړوي.

2. د لا ډېر شفافيت بابول په عامه اداره کې نه يوازې کافي مقرراتو ته اړتيا لري، بلکې همدارنګه د عامه اصلاحاتو پرله پسې مديريت او د عامه چارو کارکوونکو په تفکر کې بدلون ته اړتيا لري. دغو وروستي ذکر شويو ته پکار ده چې پدې پوه شي چې هغه معلومات چې دوی يې توليدوي په اتباعو پورې اړه لري، نه په دوی خپلو پورې.

3. حکومتونه په عمومي توګه په ښه توګه کار کوي کله چې دوی عامه سپړنې/ارزونې ته پرانيستي دي. شفافيت بنسټيز دی که چيرې د عامه چارو کارکوونکي حساب ورکوونکي وساتل شي. کمزوره حساب ورکوونه ناچاره فساد او ناوړه اداره رامينځته کوي.

4. حکومتونه او قانون جوړوونکي بايد مجاهدت وکړي چې د هغو شيانو تر مينځ چې بايد محرم پاتې شي او هغه شان چې بايد عامه حوزې ته خپاره شي، يو واضح توپير تاسيس کړي، يعني څېړونکو ته، ژورنالستانو ته او عامه خلکو ته. پرانيستنه او شفافيت بايد اعضمي کړای شي، په داسې حال کې چې رازداري بايد اضغري کړای شي.

5. د دولتي محرميت يوه غوښه قانوني عملي مفهوم جوړونه اړينه ده. د دولتي محرميتونو او هغو معلوماتو تر مينځ چې د عامه تشکلونو په مټ رامينځته شوي بايد يوه تر امکانه پورې بې عيبه تميزي کرښه وکښله شي، د دې لپاره چې خود سرانه کړنې، د معلوماتو په درجه بندۍ کې ناوړې کارونې او فساد کم کړای شي، او د هغې طريقې قانونيت زياد کړای شي چې محرميت ته رسېدنه کېږي.

6. د اتباعو د پرې پوهېدلو د حق اغېزمن بنسټیزه کول ښه قانون جوړوني، ښه عامه مدیریت او یوه نهاد، د اجرایوي واک شتون ته په یوه مټ واټن کې،د پوره واک ورته په اختیار کې ورکړل شوي ته اړتیا لري تر څو دغه حق تضمین کړي کله چې عامه مقامات د معلوماتو د افشا کولو څخه ډډه کوي.

7. آزادې، خپلواکې او مسلکي رسنیې، د یوې فعالې مدني ټولنې سره په ترکیب کې چې د پرې پوهېدلو د حق په هکله په غښتلو عامه بحثونو او مناظرو کې ښکېل وي، یو د هغو اغېزناکو میکانیزمونو څخه دی چې په حکومت کې شفافیت او پرانیستنه ترویجوي، همدارنګه د ښه نیت افشاګرو د محافظت لپاره. پرته له دغه دباندیني فشار څخه، دا ناشونې ده چې حکومتونه به د شفافیت تګلارې خپلې کړي او عامه سپړنې ته ځان پرانیزي.

8. موږ لا اوس هم د افشاګرۍ د محافظت د تګلارې د پراختیا او ورسره تړلو بنسټیزو او د کړنلارې میکانیزمونه په ابتدایي پړاو کې یو. د یو لړ استثناوو سره، افشاګران باید لا هم په ډېرو هېوادونو کې پر محافظتي میکانیزمونو باندې بې اعتماده اوسي، د اعتماد نه وړ په توګه.

9. تر اوسه پورې موږ یو کافي غښتلي مفهومي جوړښت ندی موندلی چې پر فرهنګي تعصب غالب شو، کوم چې په ډېرو ټولنو کې شتون لري، او هغه انډول ته بدلون ورکړو په دې ډول چې د قضاوت د سالمې قوې اخلاقي لاملونه کېدای شي پر مثبت قانون باندې غالب راشي، پرته له دې چې د قانون حاکمیت تر ګواښ لاندې راولي.

10. د exception de citoyenneté مفهوم د دې ارزښت لري چې لانور یې هم وسپړو، تر څو چې د عملي اخلاقو او قانوني تعبیر لپاره د افشاګرو د بهتره محافظت لپاره  بهتره مشخصې پیدا کړو.

11. موږ ته پکار ده چې بهتره او غښتلي بنسټیزې جوړوني ته وده ورکړو کومه چې په دې وتوانېږي چې د دوه اړخیزه بنسټیز حق د محدودې کرښه وکاږي او ویې ساتي: د پرې پوهېدلو په حق او د بیان د آزادۍ په حق.

# د ښه حکومتولۍ د لړۍ لارښودونه












معلوماتو ته لاسرسی او عامه شفافیت ته د محدودیتونو لارښود معلوماتو ته د عامه لاسرسي په ساحه کې تر ټولو ښې کړنې خلاصه کوي، او د شفافیت او د دولت د مشروع اړتیا چې د معینو معلوماتو محافظت وکړي ترمینځ پر انډول بحث کوي.

د عامه وو لاسرسی معلوماتو ته په یوې دیموکراتیکې او پرانیستې ټولنې کې ډېر اړین دی او د ښه حکومتولۍ لپاره یو بنسټ ښیي. خو بیا هم ، دا په تېره بیا د دفاع په اړه ننګونکی دی، چیرې چې محرمیت تر یوه بریده یوه اړتیا ده. په دغه لارښود کې، د CIDS نړیوال مشر کارپوه Francisco Cardona تر هغه حده رسېدنه کوي، تر کومه پورې چې شفافیت په اداري کړنو کې د OECD او EU هېوادونو کې بنسټ بنا کوي. پر وروستیو بېلګو د رڼا په اچولو سره ، کاردونه د' پرې پوهېدلو حق' د دولت د محرمیتونو د حفاظت په مقابل کې منعکسوي. دی دې نتیجې ته رسېږي چې د دولتي محرمیتونو محافظت تر هغه وخته قانوني دی، تر کومه چې هغه توجیه شوی وي، په داسې حال کې چې شفافیت هیڅ ډول توجیې ته اړتیا نلري.

**ښې حکومتولۍ ته لارښودنې** د کوچنیو کتابګیو یوه ټولګه ده چې هر یو یې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهمیت په اړه بحث کوي. دوی کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې یا په یوې موضوع کې لېوالتیا لري او یا خو هم په یو زیات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي ، یوه لېوالتیا ولري – او یا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعلیمي موخو لپاره وکارول شي.

ژباړونکی: د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې
ډیزاین: www.melkeveien.no
چاپ: د ناروې حکومت امنیتي او خدماتي سازمان
د 2016 کال د جون میاشت

NATO
OTAN

پښتو ژبې ته د اصلي انګرېزي متن
ژباړه د ناټو په مټ ترسره شوې

Centre for Integrity
in the Defence Sector

www.cids.no